## مطبوعاتي اعلاميه

### د راشده خلافت له تاسيس پرته به مېرمنې له هيڅ راز درناوي، امنيت او وياړ څخه برخمنې نشي

سږ کال رجب مياشت د هغې بدمرغې ورځې له تلين سره سمون خوري، چې ۹۸ کاله مخکې مسلمانانو خپل پرتمين دولت، خپله مشري، خپل سپر او ساتونکی- خلافت يې له لاسه ورکړ. تر يادې ورځې وروسته مسلمانې ښځې او کورنۍ له وژنې، لوږې، ويجاړۍ، ځورونې، بې عزتۍ، بې وزلۍ، ظلم او نه زغمونکو کړاوونو سره مخ شول. موږ هغه دولت له لاسه ورکړ، چې زموږ چارې يې د تقوا پر بنسټ سرته رسولې او د خلکو اړتياوې يې د الله سبحانه وتعالی له امر سره سمې پوره کولې. اوس هغه چارواکي زموږ چارې سرته رسوي چې د خلکو پروا نلري، دوی زموږ ښتمنې د عياشۍ په موخه لګوي او هغه مسلمانان چې د الله سبحانه و تعالی پر دين يې ټينګې منګولې لګولې ،له سختو ځورونو سره مخ کوي. دا هغه پياوړی دولت و چې د جهاد له لارې يې د اسلام د خپرولو په موخه نوې سيمې نيولې او دا هغه دولت و چې يوې مسلمانې ښځې ته د زيان رسولو له وېرې د دښمنانو زړونه لړزېدل... خو اوس موږ د عامه وژنې او نيواک قربانيان يو.

دا هغه دولت و چې مسلمانې ښځې ته به د درناوي، پالنې او خونديتابه له اړخه زياته پاملرنه کېده، د دې درنښت ته په دنيا کې تر هر ارزښتمن شي په درنده سترګه کتل کېدل، په داسې حال کې چې د خلافت چارواکو خپل بشپړ پوځ د دې د درنښت ساتلو په موخه چمتو کاوه... خو اوس موږ په داسې وخت کې ژوند کوو چې زموږ خويندې د اسلام د دښمنانو له لوري له وېرې او مسووليت پرته له ناوړې ګټې اخيستنې، سپکاوي، او جنسي تېري سره مخ دي، ځکه چې د دوی د ژغورلو لپاره پوځ نشته چې راپاڅي او نه هم د دوی د عزت ساتلو لپاره ساتونکي شته. هغه دولت چې مسلمانې ښځې ته يې امنيت او پناځای چمتو کاوه او آن نامسلمانانو په خپلو هيوادونو کې د نابرابرۍ له امله په دغه عادل دولت کې پنا اخيسته... اوس موږ داسې حالت ته ورسېدو، چې مسلمانې ښځې د اسلام د دښمنانو له لوري بنديانې،ږي او ځوربږي، خو د اسلامي نړۍ واکمنان د يادو مسلمانو ښځو پروا نلري، پرېږدي يې چې په سمندر کې مړې شي او يا يې پرېږدي چې په داسې ناولو پنډغالو کې شپې او ورځې تېرې کړي چې ان د حيواناتو لپاره وړ نه دي. دا هغه دولت و چې ډېره شمتني يې درلوده او د خلکو غوښتنې يې پوره کولې او دا هغه خلافت و چې پر خپلو اوږو يې خواړه، بېوزلو مسلمانو ښځو او ماشومانو ته رسول. اوس ګڼ وګړي له فقر او بې وزلۍ سره لاس او ګريوان دي، مسلمانې ښځې پر سړکونو سوال کوي او ماشومان يې په خزلو کې د لوږې د مهارولو په موخه د خوړو پاتې شونې غونډوي، يا د لوږې له امله مري او هيڅوک هم نشته چې د خوړو يوه مړۍ ورته ورکړي.

د دې ټولو کړاوونو ترشا د خلافت ړنګېدل و ـ هغه چې د مسلمانو ښځو ساتونکی، سپر او مدافع و. په داډ سره ويلی شو، چې يادې نهه اوږدې لسېزې د اسلامي امت لپاره له بدمرغۍ، نه زغمونکي کړاوونو او له سپکاوي ډکه موده وه، همدومره بس دي! بيا هم په ډاډ سره ويلی شو چې اوس هغه وخت دی چې دا نړۍ يو ځلې بيا په عدالت، خونديتابه او سوکالۍ سره د الهي نظام په اډانه کې، يعني د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پر طريقه د خلافت په تاسيس سره ښکلې کړو.

له لسيزو راهيسې سيکولر حکومتونه، رسنۍ او بنسټونه په ناسم ډول خلافت د ښځو دښمن او بې رحمه دولت معرفي کوي. په داسې حال کې چې هغه استازی، مدافع او د خلکو د غوښتنو پوره کوونکی دولت دی. نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ**» « امام (خليفه) ساتوونکی او د خپلو خلکو مسوول

دی» او دی صلی الله علیه وسلم همدارنګه فرمايي: «**إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ**» «په رښتيا سره امام (خليفه) سپر دی چې د هغه ترشا جګړه کېږي او هغه ته پناه وړل کېږي.» پر همدې بنسټ، سږکال رجب د حزب التحرير د ښځو څانګې مطبوعاتي دفتر به د «**خلافت: زما ساتوونکی! زما سپر!**» تر سرلیک لاندې یو کمپاین ترسره کړي، چې په هغه کې به هغه لیدلوری په ډاګه شي چې څرنګه رېښتینې راشده خلافت د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه په عملي توګه د خپلو اصولو او قوانینو پر بنسټ او د نظامونو له لارې د مسلمانو ښځو ستونزې حلوي او د دوی ژوند، شتمني، درنښت او دین ژغوري، لکه څرنګه چې د حزب التحرير په ادبیاتو او اساسي قانون کې په دې تړاو په جزیاتو بیان شوي دي. موږ له تاسو څخه هیله کوو چې یاد مهم کمپاین ملاتړ او تعقیب کړئ. د پرتمین خلافت د بیا تاسیس لپاره د دې ستر او پراخ بدلون یوه برخه شئ.

**په لاندې لینک کې یاد کمپاین تعقیبولی شئ:** http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/

**زموږ د فیسوبک پته:** www.facebook.com/WomenandShariah

**د کمپاین پیل ویډیو پته:** https://youtu.be/lgV1wrLyrY4

**ډاکتر نسرین نواز**

**د حزب التحرير د ښځو څانګې د مطبوعاتي دفتر رییسه**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰ هـ.ق د رجب ۱**

**۲۰۱۹ م د مارچ ۸ مه**